


Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې:

||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: دا ته د کومو غرونو شور یې

شاعـــر :: عبدالمالک بېکسیار

د چاپ کال :: 1384ل (2005م) کال

خپرندوی :: د هیلې مجلې اداره

کمپوز/ډیزاین :: ایشیا سافټ پېښور

کمپوزوونکی :: بارکوال میاخېل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټړون:

هغوي ته چې د شعر په تقدس ایمان لري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخ راغله د اشنا کلا- جزاک الله څه خوند

د دې پورې غرو تر شا کلا- جزاک الله څه خوند

ستوري لر بر چې کېدله او د کرړو ساز چې خور

د سپوږمۍ غېږ کې بېگا کلا- جزاک الله څه خوند

گل گل شنه يې په گوټ گوټ باندې يادونه چې د يار

د گل ونه شوله بيا کلا- جزاک الله څه خوند

گونگو، تشو، تورو مېنو راته زړه خوږلی تل

دا چې پورته ترې غوغا کلا- جزاک الله څه خوند

دا له کومې ډېرې ياره پاڅېدلی يم سهار

ليک په سترگو مې دِ تا کلا- جزاک الله څه خوند

يار به ماته بېکسياره! راکوله چې جزا

ورته وې به مې جزا ک الله جزاک الله څه خوند.

***

دريغه چې لږِ راتهٔ احساس چې تا به څه کړي و؟

ما درنه غوښتی که وای لاس چې تا به څه کړي و؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون مې ټول يوه عجبه معما کې راګير

تل را سره وي دا وسواس چې تا به څه کړي و؟

ستا له غوسې نه لړزېده چې ما کتل ځمکې ته

که در کتلي مې واى پاس چې تا به څه کړي و؟

د وطن مور يې که آګا چې نازدانه بچي دې

غواړي خيرونه په مدراس چې تا به څه کړي و؟

که تاته پته واى اشنا چې بېکسيار يې په دار!

هم بې ګونا، هم بې اساس چې تا به څه کړي و؟

***

خاطر ته دې راغلى يم لږ ومې کړه خاطر

په زړه باندې داغلى يم لږ ومې کړه خاطر

ګيلې ګيلې زړګى لرم، نينې نينې ځيګر

حيران هک پک ناست غلى يم لږ ومې کړه خاطر

چې څوک يمه او څنګه يم او څه يم پرېږده نور

بدنام يم که ښاغلى يم لږ ومې کړه خاطر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما کړی وو قسم چې نور به نه درځم ساقي

بیا هم چې درغلی یم لږ ومې کړه خاطر

بللی بېکسیار یم نورو ښکلیو هم وار وار

قسم که ورغلی یم لږ ومې کړه خاطر

***

دا ستا ظلمونه ستا کیسې به تا اخر شرموي

ټول بشریت ته دسیسې به تا اخر شرموي

وژنه یې څومره چې وژلای شې چې څومره دې وس

مرګي ته ډېرې تلوسې به تا اخر شرموي

دربانديې اخلي چې بې دینه بې ایمان وګړي

زما ایمان دی راپسې به تا اخر شرموي

د خدای مخلوق درته د ماشي هومره نه ښکارېږي

د طلا، تېلو وسوسې به تا اخر شرموي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مظلومانو له زړګو نه را اوچتې ښېرې

د وخت جلاده درپسې به تا اخر شرموي

که يې له ما سره به يې که نه دښمن يې زما

دا پېغې او دا غوسې به تا اخر شرموي

لکه رمه باندې د وږي لېوه پېښه شوې

د بې ګونا وينو کاسې به تا اخر شرموي

ديموکراسۍ باندې به سر خورې بېکسيار خو وايي

دغه د زهرو پتاسې به تا اخر شرموي.

***

انسان نو څه يانې، د غوښې پوټې

د ظلم دنګ، لوړ غر، د کرکې بوټۍ

حال يې خراب مدام، خو که لږ ښه شو

وهي لغتې به، لکه خر کوټۍ.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله پند یم په کیسه کې

کله خوند یم په کیسه کې

لکه وخت اوړم را اوړم

بند په بند یم په کیسه کې

په زړه لګم لکه وړم

خولې ته قند یم په کیسه کې

خدای دې خیر کړي میاشت خو وشوه

چې پابند یم په کیسه کې

د ابۍ خیرې لمن ته

سور پیوند یم په کیسه کې

امریکا چا وې ورانېږي؟

د مومند(1) یم په کیسه کې

ورک د چا د سترګو شعر کې

د چا بند یم په کیسه کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له شعره لرې وزګار شوم

ارجمند یم په کیسه کې

یار خاکه د ژوند چې کښلې

تش کارمند یم په کیسه کې

بېکسیار یم د (میدان) به؟

هنرمند یم په کیسه کې

***

یواځې نه ده مسله د اوښکو

څنګه ترم به سلسله د اوښکو

زه یې که څو ایساروم بهېږي

دا ده په خپله فیصله د اوښکو

د زمانې زاهد ناحق تکفیر کړم

زما په لاس کې وه پیاله د اوښکو

زړګیه ګرانه به شي ډېره ګرانه

سفر د عمر او جاله د اوښکو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په بلا وهه ما هېر کړه اشنا

لړ مې جرګې خو در بله د اوښکو

ژړا ليدلې مې وه نه چې داسې

لکه په شړک باران ګله د اوښکو

چې رسېدې هر چاته خپلې رخې

زما په برخه قواله د اوښکو

تل نابېلې را رواني به وي

اسانه نه ده مامله د اوښکو

بس بېکسياره! دا غزل ختم کړه

څه راته ليکې مقاله د اوښکو

بېکسيار څرنګه به و خاندمه

څو په لېمو مې دا مېله د اوښکو

***

لکه دا نور مخلوق نه سر واخله مري

که هنرمند وي ترې هنر واخله مري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل لکه زخم په دردونو پایم

له زړه مې ستا د یاد پرهر واخله مري

ساقي خمار د ژوند ته وګوره لږ

لږ جنازه يې په نظر واخله مري

ګله اشنا دې د وخت سختو کې ګیر!

لږ يې کړه یاد لږ يې خبر واخله مري

څوک به په څه څوک به په څه باندې مري

له بېکسیار څخه دلبر واخله مري

***

د زړه له حاله چاته حال ووایم

زه له محاله چاته حال ووایم

په وس مې نه چې رنګ د شرم دېوال

له بند دېواله چاته حال ووایم

راته کتلې چې محفل کې اشنا

یمه بې حاله چاته حال ووایم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاته معلوم ظالم مظلوم ټول د وخت

گرانه ليکواله! چاته حال ووايم

خوار بېکسيار داسې مدام چې کوم

ستر له سياله چاته حال ووايم

***

نشه يې نه خمار يې کړم دا څرنگه ځواني وه

په مخ سي د يار يې کړم دا څرنگه ځواني وه

واړه، زاړه د کلي مې د تور په غشو ولي

چې خپلو ته اغيار يې کړم دا څرنگه ځواني وه

کيسې مې د ځوانۍ د خوبو ډېرې اورېدلې

تر عمره چې بيدار يې کړم دا څرنگه ځواني وه

د نورو په هجران باندې اوس سرې سترگې زما ځي

دا داسې پامته دار يې کړم دا څرنگه ځواني وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالت کې بېکسیاره! رسېدم نجونو ته نه چې!

اوس اوس چې داسې خوار یې کړم دا څرنګه ځواني وه

***

وخت راسره و په خبرو کې لاړ

زما او ستا په تشو غورو کې لاړ

په غلیمانو د یرغل ښکلی وخت

په ټولولو د لښکرو کې لاړ

له شملو، ږیرو یو وطن را پاتې

په برېتورو، څڼېورو کې لاړ

چې په رڼا مین ما خپله ولید

د وخت ببری یې په ښنګرو کې لاړ

څوک خبر نه شول بېکسیار چې روان

چې په سلګیو که سندرو کې لاړ

***

نن مې مېلمه راځي له بر کلي نه

زړه ته دمه راځي له بر کلي نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ړنګ انځور دی ما بلي شاړو ته

هره غرمه راځي له بر کلي نه

ربه همدا يې د راتګ زېری کړې

نری وږمه راځي له بر کلي نه

څوک سره اخلي بيا په اوښکو مچې

د وير نغمه راځي له بر کلي نه

خيال تخنوي مې لېونتوب ته بيا بيا

څه هنګامه راځي له بر کلي نه

کوم څوک مين وايي د هجر ټپې

ورو زمزمه راځي له بر کلي نه

د بېکسيار د مرګ وروستۍ پرېکړه کړي

مکالمه راځي له بر کلي نه

***

په ويښه نه راځي په خوب کې مروره رانه

وايي مې زړه راځي په خوب کې مروره رانه

رقيب بې ځايه ورته دلته، هلته لارې نيسي

پاس په لېمه راځي په خوب کې مروره رانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بره یې کله په ژوندوني هم را ونه کتل

مړه مړه کاته راځي په خوب کې مروره رانه

اوس یې په پلار، نیکه، په غور نیکه قسم چې وخوړ

اوس به نو څه راځي په خوب کې مروره رانه

شک به کاوه ما بېکسیار په یار خو وشه دا ځل

کړې یې خوله راځي په خوب کې مروره رانه

له بېرته تګ نه یې خبر ځان سره پټ و ژاړم

لکه د غله راځي په خوب کې مروره رانه

***

خبر بې نه راځي تش یاد بې مسلې جوړوي

په ګونګه ژبه شور فریاد یې مسلې جوړوي

ژوندون د ګلو یوه څانګه ده چې څوک باندې پوه

د اوږده لنډ دغه معیاد یې مسلې جوړوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ته مې سر لوڅ کړ چې هر څه هر څه کړه لړ په تول

داسې د مینې اعتیاد یې مسلې جوړوي

خیام د ټولې میکدې قاید به وې خوره شراب

خو دا یې هم وې از د یاد یې مسلې جوړوي

مینه له مخې بېکسیاره! ده ساده خبره

مانا یې سخته ده بنیاد یې مسلې جوړوي

***

غېږ کې حیا ورتلله یار یې په اوږه واخیست لاړ

ما یو شاعر ولید چنار یې په اوږه واخیست لاړ

صبر مې څومره که ساقي ته پښه نیولی شو هیڅ

یوه شېبه تر مخ خمار یې په اوږه واخیست لاړ

پل پسې واخله هلته کوز به چا وژلی پخوا

هغه ټوپک چې د اغیار یې په اوږه واخیست لاړ

زه هلته ناست یو لېونی مې ولید خوښ خندان شوم

هوښیار چې کوت مې ژوندون بار یې په اوږه واخیست لاړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک نااشنا به بېکسیاره ستا په مرګ ولیکي!

چې د منزل ګرد او غبار یې په اوږه واخیست لاړ

وم که د هجر په تیارو کې روان ړوند خو نه وم

خزان مې ولیده بهار یې په اوږه واخیست لاړ

***

پرې پل په پل مې کړي خطا یار پسې اخلمه پل

چا وې چې یمه وارخطا یار پسې اخلمه پل

ستا میخانه کې ساقي مست د چا د سترګو په جام

په دغه رنځ اخته کړم تا یار پسې اخلمه پل

عشق خو د پاک الله یو داد دی په چا- چا به شي

ماته چې پاک رب را عطا یار پسې اخلمه پل

زما خویونو سره نشته کار، نه اوسم خیال کې

ګرځم په مینسک ، ماسکو، مالټا یار پسې اخلمه پل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور ايسارېږم نه ناصحه! بېکسيار روان يم

دا ستا خبرې بېرته ستا يار پسې اخلمه پل

***

د زندګۍ غمونه واړه لکه توت را ټول کړم

خپلې هستۍ ته د ژوندون نور چاڼ ثبوت را ټول کړم

اشنا مېلمه وي د زړګي په باغ او زه يم ماليار

کله انار، کله انګور، کله شاتوت را ټول کړم

په مړي ژوند به دا يوه خوله خندا څنګه ساتم

يمه حيران چې څنګه عطر له تابوت له را ټول کړم

قسم په خدای دی که به څوک وي بيا زما د ټينګې

ټول پښتانه که هسې يو واړې مضبوط را ټول کړم

هسې نارې دي نامراده چې وهم يې ياره

کاڼه به څنګه د وختونو په سکوت را ټول کړم

چې ترېنه جوړ کړم بېکسياره! د وطن ورک تاريخ

دافغان پلونه له دمشق که له بېروت را ټول کړم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ما کله هم لیدلې نه ده یاره یوه شپه

د یار غېږه کې پرې مې رِده سهاره یوه شپه

زه څنګه به ور ورمه د ټول عمر مناجات

لا هم چې خلاصه نه د ژوند له شماره یوه شپه

یو زه ومه یو یار و سره ګډ به هره ورځ

تا څه کانې را وکړلې اغیاره یوه شپه

د ژوند هر څه به هېر شي خو هېرېږي رانه نه

له یار سره چې ما کړې په لاره یوه شپه

اشنا راته نن وې چې زړه مې ډېر ډک دی اشنا

لږ پېښبه خو را وکړه بېکسیاره! یوه شپه.

***

مرور له دغه ښاره ځئ چې نه ځو

ننبه راغله نن له یاره ځئ چې نه ځو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږه ټولو وې ستنېږو له محفله

څوک به راشي خدای دپاره ځئ چې نه ځو

د جګړې اور به تر عمره داسې تود نه

يه د بر کلي سرداره ځئ چې نه ځو

چې کاروان روانېده موږ ويده پاتې

وار چې تېر دی اوس له واره ځئ چې نه ځو

کېږي خدای وکا له تګه نه تګ ښه شي

سوچ پرې وکړه بېکسياره! ځئ چې نه ځو.

***

وژني مې وخت تېره چاره شي راته

د چا خبرې چې په زړه شي راته

ګام په ګام مرم چې دنيا هيڅ نه وايي

بشريت ټول په شان د مړه شي راته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خو په ټول جهان کې و شرمېدل

خدایه دا تور خو هم چې پره شي راته

که مې په برخه شوه د مینې سوبه

ټول منزلونه به واړه شي راته

د یار له مخه د ژوند هر څه کې خوند

بې یاره ژوند زهر خواړه شي راته

چې را په زړه شي بېکسیاره! بېلتون

څۀ بې مانا د ژوند کړه وړه شي راته.

***

زما کیسې ژوندون په خپله کوي

دا دسیسې ژوندون په خپله کوي

زه نه یم دا چې وایم نن به څه شي

دا وسوسې ژوندون په خپله کوي

ډار ما کې نشته- د مرګي دا ویره

چې را پسې ژوندون په خپله کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ما يواځې اندېښنې يې پېرزو

او تلوسې ژوندون په خپله کوي

سرونه غواړي بېکسياره! چا وې؟

چې حماسې ژوندون په خپله کوي.

***

څه عجبه ده محال کې مې زړه بند

د چا سوچ کې د چا خيال کې مې زړه بند

د مرمرو په ماڼۍ کې مې زړه تنګ

او د ختو په دېوال کې مې زړه بند

حال به څه وايمه چاته د يارۍ

چاته څه پته څه حال کې مې زړه بند

عشق ته زړه، هم يې ساړه کېږي د يار

څه عجب يوه جنجال کې مې زړه بند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېکسیاره! که څو اخلمه پیالې

په ثواب او په وبال کې مې زړه بند.

***

خیال کې د یار چې کله لاړ شمه

کرار به ناست یم را ولاړ شمه

همت مې یو ځل غزونې وکړي

میده میده یم ښنګه لواړ شمه

چې د اشنا شي ناکردې را په زړه

نېغ نېغ روان یم ښنګه شواړ شمه

ما هم ژوندون ته ګوره دغسې یم

سمسور وطن یم ببرته شاړ شمه

زه بېکسیار لکه ګرېوان د ملنګ

په بېلتانه ریتاړ ریتاړ شمه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان چې ګورې یار شیشه کې تا لیدلی؟

کله ځان دې تماشه کې تا لیدلی؟

ستوري یو پر بل په نیمه شپه چې ورشي

اور د مینې پلوشه کې تا لیدلی؟

مسلک غوره دی اشنا چې یې لري څوک

ګدا کله څه پېشه کې تا لیدلی؟

غماز څه خبر چې یار د کندهار دی

لا تر اوسه په شه شه کې تا لیدلی؟

دا چا- چا ویل زاهده دې خبرې

بېکسیار ډوب په نشه کې تا لیدلی؟.

***

کله جوړېږي دا نشې او زما جړ خیالونه

سبا، بېګا دا تماشې او زما جړ خیالونه

لکه چې باز په ښکار د زرکو لګیا داسې ښکاري

ګام په ګام وخت لشې لشې او زما جړ خیالونه

زه ورته ګورم توره بوړه، فلوجه، کربلا

او په غزه مرې عایشې او زما جړ خیالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونخوا شته خو نه عجب نه ادم خان کې اوسي

د وخت بدلې دي نقشې او زما جړ خيالونه

ساقي باده کې دومره څنډ مه کوه ژر يې راوړه

څه مې په زړه زهر پاشې او زما جړ خيالونه

تل را تر سترګو دېراوت کې د جومات خړ طالب

د وخت نخرې د فاحشې او زما جړ خيالونه

ژوندون، جنون دي بېکسياره! په يوه قافيه

څه ماتوې پکې خاشې او زما جړ خيالونه.

***

زه چې ستا په خيال کې لاړ شم چېرته چېرته وګرځم

چېرته دې په سوال کې لاړ شم چېرته چېرته وګرځم

سترګې خو ترلې نه شم هره خوا ښکلا ښکلا

هره خوا وبال کې لاړ شم چېرته چېرته وګرځم

ټوله دنيا وګورمه نه يې کړم مثال پيدا

سوچ چې ستا د خال کې لاړ شم چېرته چېرته وګرځم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې تل پیالو ته څمه شمه له فراقه تنګ

کله په وصال کې لاړ شم چېرته چېرته وګرځم

پته د انسان که پیدا شي ما بېکسیار باندې

زه به په هر حال کې لاړ شم چېرته چېرته وګرځم.

***

هسې ښووه مې ځان ناګاره سندرې مې وې

له خواشینۍ ستا په تلو یاره سندرې مې وې

ستا په الزام چې وخت تړلی اعدام ته بووم

کسات مې اخیسته له داره سندرې مې وې

غماز راوړی وو اشنا نه پیغام د انکار

کله راته خوب تر سهاره سندرې مې وې

نن په ژړا- ژړا را تېر شوم په هغه محل

چې پرون تلم په کومه لاره سندرې مې وې

زه څو ورتلمه چې محفل ته اشنا تللی و

خبره تېره وه له واره سندرې مې وې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ته را یاد شي بېکسیاره! په شپه د بېلتون

داسې تیاره وه چې له ډاره سندرې مې وې.

***

سترګې را واړوه لږ یاره مرم

له تندې مرمه له خماره مرم

زه لکه شمه په محفل کې تل

سرِماښام نه تر سهاره مرم

یار چې را و ګوري په مړو سترګو

له مړو ایرو مرم له انګاره مرم

دا خپل احساس خلکه زما قاتل

بې غرغرې مرمه بې داره مرم

زه یم، غزل او تکه توره شپه

ځنګه بې کسه بېکسیاره! مرم.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یار چې خپه شي په نصیب کې به نه

جام چې چپه شي په نصیب کې به نه

ژوندون د هر ژوندي ارمان په ژوندون

چې لولپه شي په نصیب کې به نه

د یار دیدن ته مې کرۍ ورځ تېره

که توره شپه شي په نصیب کې به نه

د چا د حسن سمندر ته تږی

مړه که څپه شي په نصیب کې به نه

د ژوند خواږه خوند کړي چې باد یې په سر

چې په کپه شي په نصیب کې به نه

لیکه غزل بېکسیار واخیست قلم

لیک چې ټپه شي په نصیب کې به نه.

***

ستوری لکه یار ښکلی

یار لکه چنار ښکلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



و دې شي را پېښ شي نن

داسې چې نن ښار ښکلی

وْړه آینه صفا د زړه

کله وي غبار ښکلی

زه یې په سیرت مین

هر څو که نګار ښکلی

کړه یې ابتدا په عشق

بیا به دې هر کار ښکلی

څومره چې را بولم یې

نه راځي یو وار ښکلی

ژوند د بېکسیار ترې زار

یار ته انتظار ښکلی.

***

څنګه په چل ول مې یار خطاباسي

هر قدم هر پل مې یار خطاباسي

زه له ځانه نه خبرېږم کله هم

داسې لکه غل مې یار خطاباسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنگه په هوښیارو سترګو څاري مې

ښنگه لایعقل مې یار خطاباسي

غواړم ورنه زړه بدل د زړه کې زه

هسې په تسل مې یار خطاباسي

څو که بېکسیار یار ته ګیلې وکړم

خاندې په څه چل مې یار خطاباسي.

***

عشق کې آرام له زړه نه وباسه

ژوند ګام په ګام له زړه نه وباسه

څو توره بوږه داسې بوره وراره

پچیراګام له زړه نه وباسه

زړه توروي، سر سپینوي دا کیسې

د ننګ و نام له زړه نه وباسه

چې ستا مني نه په دښمن پسې ځي

بیا هغه قام له زړه نه وباسه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس بېکسیاره! هغه کلي ړنګ دي

پوړۍ او بام له زړه نه وباسه.

***

هېرې سندرې را په زړه شي کله

د چا خبرې را په زړه شي کله

زه کله کله خوب د وصل وینم

د یو چا غورې را په زړه شي کله

خواته اشنا خو کله هم رانغی

له لرې لرې را په زړه شي کله

دا کله کله د چا یاد مې سبځي؟

که اور د سرې را په زړه شي کله

بېکسیار کله مې زړګی په ټوپو

د غم لښکرې را په زړه شي کله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ناست یم ازل ته غلي غلي ګورم

پاتې مزل ته غلي غلي ګورم

خپله مې خپل وجود په خپله دښمن

د وخت دې چل ته غلي غلي ګورم

د قافلې جرس مې روح خوروي

د یو چا پل ته غلي غلي ګورم

خلاصه شمه شوه د لیکلو راکې

یوه غزل ته غلي غلي ګورم

دا ټول وطن زما دا اوس چې د بل

قسمت بدل ته غلي غلي ګورم

ژوند بېکسیاره! معما ده ستره

او زه یې حل ته غلي غلي ګورم.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره خطا به کوي دا نه کوي

يار چې موسکا به کوي دا نه کوي

هر څه کوي خدای مه کړه نه چې کله

زما رضا به کوي دا نه کوي

چا وې ساقي ميکده وتړله

هر څه رښتيا به کوي دا نه کوي

شاعر چې څه يې په زړه وايي به يې

چې خيال د چا به کوي دا نه کوي

صوفيان مې ډېر تسپې په لاس وليدل

چې لګيا دْوا به کوي دا نه کوي

بېکسيار هر فسق او فساد کې شريک

چا وې چې دا به کوي دا نه کوي.

***

نه هېرېږي ياره ستا د مخ کيسې

تل ډېرېږي ياره ستا د مخ کيسې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه کور مې داسې ځکه شو باغ- باغ

پرې خوربېږي ياره ستا د مخ کيسې

زه په خپله ګونا ټينګ يمه ولاړ

منکرېږي ياره ستا د مخ کيسې

د ځوانۍ ورځې شپې لاړې پوپنا

نه تېرېږي ياره ستا د مخ کيسې

پرخه- پرخه يې چې ونيو ټول محل

را ورېږي ياره ستا د مخ کيسې

بېکسيار ته تر بل هر څه په ژوندون

پکارېږي ياره ستا د مخ کيسې.

***

ومې بله خوښ به يم حاضر به يم

وايمه به هيڅ نه خو ناظر به يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه مې ورانوه د زمانې باده
نښه د يو چا د پس منظر به يم

عمر تېر نه پته نه درک د يار
زه په تمه ګل ته د انځر به يم

ټول وجود مې جوړ روغ الوتى نه شم
ښايي لګېدلى په وزر به يم

ښه پوهېږم نه راځې په ژوند اشنا
زه ورته تر مرګه منتظر به يم

ښکلى راته ډېر ګوري محفل کې چې
زه هم د يو چا متناظر به يم

سل ځله يم خوښ په تغافل د يار
شو يې که راپام خوښ يو په زربه يم

وايي دې هر څه چې زمانه وايي
هر څه به يم خدايږو که مضر به يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اشنا هماغه بېکسیار یمه

تاته غورځېدلی له نظر به یم.

***

ژوند څپو سره په جنګ د وخت غورځنګ سره جنګ

جانانه کله شي تر عمره عمره جنګ سره جنګ

چا وې تاریخ دی خو ما بل څه پکې ونه لوستل

بس نن له روس، نن امریکې، نن له پرنګ سره جنګ

خوب رانه ولوټي له سترګو د چا یاد د سترګو

اړخ په اړخ اوړم لکه وي مې چې پالنګ سره جنګ

هغه د ستر، د پردې حیا وختونه لاړل

هر یو وګړي را اخیستی نوم او ننګ سره جنګ

دیموکراسي راغله حقوق شول د قومونو تامین

خو له یوه قام، یوې ژبې او فرهنګ سره جنګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چې د خير په پلمه لوټې يې ديدن دی ورنه

په پورې وره کې څوک نيازبينه چا ملنګ سره جنګ

حالات مغول، خلک مغول او نصيبونه مغول

څوک به خوشال شي بيا به وکړي کوم اورنګ سره جنګ

مورې بېکسياره! هر نومورکي ته په غېږنه ورځو

د وخت زمری مو کړ ګيدړ اوس مو پلنګ سره جنګ.

***

په مخه راغله خو پردې يې غمازي کوله

د کشرۍ خور پرځای ادې يې غمازي کوله

له بې وعدې جانانه ځار شم اوس يې هر وخت ګورم

ښکاري پخوا کړې وعدې يې غمازي کوله.

***

ورځم کوم يار ته منت چې چاره را کاږي نور

ژوندون ته څه مې ضرورت چې چاره را کاږي نور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلم ختیز ته تر لوېدیزه انسان ومې نه موند

له انسانیته مې نفرت چې چاړه را کاږي نور

راته تر څو به وخت ایستلې توره سرته ولاړ؟

دریغه چې وکړي دا همت چې چاړه را کاږي نور

خیال خو مې نه شي چې به یار له قصده نه مې وژني

که داسې وي هم له غفلت چې چاړه را کاږي نور

ورشه ریباره یار ته و رسوه دغه پیغام

تېر یې له مینې له الفت چې چاړه را کاږي نور

په واټنونو رانه لرې یار سره مې نور څه؟

ورځم یواځې په دې نیت چې چاړه را کاږي نور

ما بېکسیار خون ور بخښلی اوس رقیب که نر شي

او یو څه وکړي جرئت چې چاړه را کاږي نور.

***

چا ویل چې ساز د زمانې یمه

زه د زړه اواز د زمانې یمه

هر څوک زما پل کله وهلای شي؟

زه چې په انداز د زمانې یمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مې شته سکون لکه د سيوري هيڅ

خوځم اهتزار د زمانې يمه

ځير شه راته شد مد مې ټول ولوله

پام کوه چې راز د زمانې يمه

بولي مې غزل د بېکسيار خلک!

اصل کې زه ناز د زمانې يمه.

***

د خيال يوه شپه راشي د باد يوه شپه شي

مورې دواړه غرفېدلو چې را ياد يوه شپه شي

د ميني سمندر چې کړي د هجر سيلۍ لاندې

منزل ته يوه و رسي برباد يوه شپه شي

وران کړی دا وطن خو دی بې شمېره سېلاوونو

حيران يمه چې ولې قلمداد يوه شپه شي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېږو، د کيږديو، د اوښانو بوی چې راوړي

را پېښه داسې کله به د باد يوه څپه شي

له زړونو نه چې مينې بېکسياره! کډې وکړي

مېشته شي پکې کرکې او اضداد يوه څپه شي.

***

کله په هېر باندې خمار ماتوم

کله په تېر باندې خمار ماتوم

په بام مې تنده اشنا نه سړېږي

په لړ و ډېر باندې خمار ماتوم

هغه کوڅه اوس له مودو نه شاړه

په تېر و بېر باندې خمار ماتوم

زه شاعر نه يمه ملګرو هسې

وخت ناوخت شعر باندې خمار ماتوم

بېکسيار پوه يم چې اشنا نه راځي

د ورځو شمېر باندې خمار ماتوم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د اغزو دور دی د ګل کیسه څوک کله اوري؟

باغ کې کارغان مېشت د بلبل کیسه څوک کله اوري؟

په خونړو لارو د مینې وي مزل چې د چا

د پړاوونو د منزل کیسه څوک کله اوري؟

یا به قاتل یې، یا به غل یا به وطن خرڅوې

بغیر له دوی نه د چا بل کیسه څوک کله اوري؟

چا چې وران کړی هماغه وربانديې بیا حاکمان

اوس د کندهړ- کنهړ کابل کیسه څوک کله اوري؟

زېړو جنجړ وېښتو او شنو سترګو وطن ټول ونیو

د تور اوربل او د کاکل کیسه څوک کله اوري؟

ځانځاني دومره چې یو بې له ځانه ټول پردي شول

د دوست، اشنا د یار او خپل کیسه څوک کله اوري؟

د تورې بورې، دېراوت هنګامې داسې تودې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ژورې او ګومل کيسه څوک کله اورې؟

اوس بېکسياره! يارانې د ناستې ملاستې شولې

اوس د مړوند او د منګول کيسه څوک کله اورې؟.

***

وخت خو ناوخته شو پياله چای به کراره وڅښم

بيابه سګريټ يونيم پسې کولا په لاره وڅښم

اوښکې به خدايزده چې ترڅو درځم څو واره وڅښم

د شونډو جام به دې که خدای کوله ياره وڅښم.

***

شاعري څه به کړم د زړه خبره ومې نه کړه

اشنا محفل ته چې راته خبره ومې نه کړه

په سترګو سترګو کې مې وکړې ورته ډېرې زارۍ

خو يار ته مخامخ په خوله خبره ومې نه کړه

پرېږده سلګۍ، اوښکې، ژړاوې مې جونګړه تالا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راز د مينې مې ساته خبره ومې نه کړه

ما خو د وخت د نظر سرو غرمو کې عمر کړ تېر
چا وې د سترګو د بانه خبره ومې نه کړه

خوله مې را جوړه کړله څو ځلې چې ويې وايم
اوښکه مې راغله تر لېمه خبره ومې نه کړه

زړه وې چې وکړه بېکسياره! ورته ټوله کيسه
د يار حيا ته مې کاته خبره ومې نه کړه.

***

نغمه نغمه به يم رباب به يم خو شور نه لرم
د سترې سترې ژوند يو باب به يم خو شور نه لرم

زه يو کاروان يم بې جرسه، بې منزله روان
ځم لکه عمر په شتاب به يم خو شور نه لرم

لکه لمرخړک را ويښوم هره ورځ ټوله دنيا
و دې شي زه کوم انقلاب به يم خو شور نه لرم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس اوس زړه شین، خوا سړه ډوب یم سمندر کې د وخت

له دنګو غرو را کوز سیلاب به یم خو شور نه لرم

نه ځه واعظ یم نه زاهد چې به په زور، زور لګیا

عشق کې په زړه کباب کباب به یم خو شور نه لرم

د زمانې آهنګ چې زیر و بم غړېږي ځنګه؟

زه یې بې شکه ځه اسباب به یم خو شور نه لرم

ګرځم را ګرځمه یوه خوا، بل خوا سا را کاږم

ضرور ژوندیو کې حساب به یم خو شور نه لرم

ټیک ده لیکلی بېکسیار به یم په تورو شپو کې

پنځ د غزلو یو کتاب به یم خو شور نه لرم.

***

هرځه هرځه بېرته هسې کله کېږي

د بوډا ځواني له وسې کله کېږي

د یار خیاله خیال ته مه راځه منت کړم

یارانه د بوالهوسې کله کېږي.

***

عجیبه یو احساس دی ځه اشنا اشنا هوا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بخت لاس کې مې لاس دی څه اشنا اشنا هوا

اشنا راشه له ځانه سره راوله ځواني
همدا مې التماس دی څه اشنا اشنا هوا

خویونه لږ پردي دي اور، ګودر، منګی اشنا
اشنا د یار لباس دی څه اشنا اشنا هوا

انځور د تېر پرون کړي درته مخې ته ناڅاپ
بې شک ژوند ستر عکاس دی څه اشنا اشنا هوا

د کلي په لوی ډاګ کې زه ماشوم یم په ډیۍ بوخت
دا خوب، خیال که وسواس دی څه اشنا اشنا هوا
هر څه هسې په ځای دی د کلو- کلو تر شا
ویاله لاندې، غر پاس دی څه اشنا اشنا هوا

که اوسه پورې مړ وم بېرته بیا شوم را ژوندی
دا ټول دیار تماس دی څه اشنا اشنا هوا

ضرور به بېکسیاره! پکې نښې دې د پل
دا سند دی، که مدراس دی څه اشنا اشنا هوا.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ته له پورته زه له ښکته یم راغلی

د بدبختو له مالته یم راغلی

راتگ هم هسې څه مفته نه وو دلته

ستا د دوا له برکته یم راغلی.

***

)خدایه زغم کړه را په برخه(

هوس کم کړه را په برخه

حریص نه یم ډېر نه غوارم

یو صنم کړه را په برخه

"چې تر عرشه پورې رسي

یو قدم کړه را په برخه"

ربه یار ته چې ور مخ شم

هغه دم کړه را په برخه

یا مې مه سوځه جانانه!

یا ملهم کړه را په برخه

چې زرگونه ښادۍ ارزي

داسې غم کړه را په برخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یه د پاک الله رسوله!

خپل حرم کړه را په برخه

ستا ښکلا به باندې ستایم

مات قلم کړه را په برخه

ربه تش جانان نه غواړم

جنت هم کړه را په برخه

ستا رضا چې پکې نغښتې

هر الم کړه را په برخه

پر هغه دنیا چې تل ده

هر پرتم کړه را په برخه

دښمن ستا چې ترې وېرېږي

داسې برم کړه را په برخه

د ایمان څراغ مې بل کړه

ژوند تورتم کړه را په برخه

زړه مین درځخه غواړم

لېمه نم کړه را په برخه

گوناگار یم، گوناگار یم

خپل کرم کړه را په برخه

دیدنونه چې بې توله

د یار چم کړه را په برخه

په هجران که جل وهلم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زمزم کړه را په برخه

خلک وايي بې رقم يم

څه رقم کړه را په برخه

ربه زړه کې راته وېره

د عدم کړه را په برخه

زه به ساز د زمانې شم

زير و بم کړه را په برخه

ټول وطن مې درخانۍ ده

يو ادم کړه را په برخه

چې يې ستا په نامه ورکړم

زر درهم کړه را په برخه.

***

يار په لوی لاس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ

زه خپل احساس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ

خيال کې راغلی يا راځي يا بېرته ځي څوک اشنا

بلا وسواس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ

ساقي څوک بولي، څوک شړي د ميخانې له غولی

دې ټيټ و پاس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ظاهر چې ګوري، حد چې نن د ښه سړيتوب
ټاکي لباس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ

وطن لغړ، ګلشن لغړ، هر تن لغړ چې ګورم
فقر و افلاس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ

يار او اغيار چې بېکسياره! سره پټه کې يو
دغه تماس نينې نينې کړمه د وخت په تبۍ.

***

نه ورځم په مخ د لېونتوب کيسه اوړده ده
ژوند يو هسې خوب دی او د خوب کيسه اوږده ده

پيڅکه د ځادر خيشته تمام عمر مې ياده
تالندې، باران، اوښکې څڅوب کيسه اوږده ده

غچ مې له غليم څخه د ژوند د نن سندره
عشق کې مې د ماتې او د سوب کيسه اوږده ده

يار ته يادوم هسې چې زړه باندې يې ويشتی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت لنډ دی د زخم د پړسوب کیسه اوږده ده

نور مې پوښته مه اشنا چې شپه راڅخه لاړه

نن درته د کوټې کرم د ژوب کیسه اوږده ده

دریغه بېکسیاره! بس چې وریو ته ډوډۍ خو

نوره د خواهش او د خړوب کیسه اوږده ده.

***

کارغه ونیو باغ د ګلو ستر مات شو

په چمن کې د بلبلو ستر مات شو

چې د لمر د شغلو لاره ورته نه وه

په وطن د هغو ښکلو ستر مات شو

دیوسي، دیموکراسي شول سره غاړه

د بلا- بلا ښاغلو ستر مات شو

چې تمیز شو پکې ورک د پردو خپلو

د پردو او هم د خپلو ستر مات شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېکسیاره! شاعري دې افسانه شوه

د پټ- پټ غزل لیکلو ستر مات شو.

***

په خیال کې راغلې تر نظره شوې را شنه په زړګي

راته دې وکړه څه خبره شوې را شنه په زړګي

هلته یو ښکلی په مخ راغی څه یې تاته ورته

راته را یاده نابېره شوې را شنه په زړګي

درخانۍ دغه دې ښېشکه چې پښتو وکړله

یو ځلې راغلې تر آخره شوې را شنه په زړګي

محبوبې ښکاري چې کلونه د روژې مې ختم

چې سم له میاشتې د اختره شوې را شنه په زړګي

د بېکسیار د زړه دنیا وه له مودو نه شاړه

ته ورته راغلې بختوره شوې را شنه په زړګي.

***

محفل ته ورغلو تر جامه ور ونه رسېدو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کبرجن ساقي تر پامه ور ونه رسېدو

په لمرخاته ور روان ټوله ورځ مزل مو وکړ
خو په وعده تر خړ ماښامه ور ونه رسېدو

منډې مو وکړې ستړې ستړې تر درشله د یار
مرحلې راغلې تر انجامه ور ونه رسېدو

لکه افغان روڼ اندي خلک مو په هر کلام کې
په رښتیانو تر مظلوم قامه ور ونه رسېدو

لا مو د مینې پټ پټوني وو چې وخت سره بېل
تر سپوږمۍ، ستورو او تر بامه ور ونه رسېدو

ښه په غرړ، ځوږ را ټول، روان شوو له ډولونو سره
خو بېکسیاره! تر مرامه ور ونه رسېدو.

***

څه یې تپوس کړې دا کیسه اوږده ده
ته ویر پرې اوس کړې دا کیسه اوږده ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورد له خرواره ته خبر ورنه، نه

افسوس- افسوس کړې دا کیسه اوږده ده

دا چې بلا- بلا پېرۍ تېرې شوې

ننگ په ناموس کړې دا کیسه اوږده ده

شل به يې کړې اشنا گومان مې نه شي

که يې پنځوس کړې دا کیسه اوږده ده

يار چې په مخه بېکسياره! درشي

ته ځان چاپړوس کړې دا کیسه اوږده ده.

***

زه بل څوک يم دلبر ستا غلام

ستا نوکر، ستا چاکر ستا غلام

اشنا اخلې قدم چې، کړه پام

درته پروت دی په در ستا غلام

په محفل کې به وايي هر څه

په لېمو په نظر ستا غلام

پادشاهان د دنيا نه مني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه دی مګر ستا غلام

لټ په لټه یې کړله دنیا

غواړي یو ستا خبر ستا غلام

اشنا راغی که وخت د آزمون

ږدي به سر خپل په سر ستا، غلام

بېکسیار ورته وایي عالم

ګڼي ځان خپل اکثر ستا غلام.

***

کیسه د ژوند لا هسې شاړه او دا جړ خوبونه

څه چې ویده شو، زه ته دواړه او دا جړ خوبونه

همدا نن راشه که تعبیر یې شې خو نه چې سبا

سبا بیا ما له خدایه غواړه او دا جړ خوبونه

اشنا چې ته ماته یې دغه دوه ډالۍ را ډالۍ

پاس په باڼه اوښکه ولاړه او دا جړ خوبونه

لېونی خیال مې بیا د کوم سمندر تل ته کاږي

دغه د زړه خونه ویجاړه او دا جړ خوبونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېکسيار له مرګه وروسته ورڅه به د چا؟

د ګرېوانه څيرې ريتاړه او دا جړ خوبونه.

***

لکه مدام بيا را په ياد شوې خوب مې وتښتېده

د زړه په کلي مې اباد شوې خوب مې وتښتېده

بېګا نسکور چې په هوجره کې پروت ستا خيال راسره

د چا وطن، د چا هېواد شوې خوب مې وتښتېده

کوم ماشومتوب، کوم زلميتوب، کومه ځواني قسمته؟

زما ژوندونه څه برباد شوې خوب مې وتښتېده

نه پسرلی شوې، نه ګلونه او نه پرخه اشنا

تر خوا مې تېر لکه د باد شوې خوب مې وتښتېده

دومره د يار د مينې لومه کې وم خوش بېکسيار

چا غماز ووې چې ازاد شوې خوب مې وتښتېده.

***

ملګرو خدايزده چېرې ځي دا شاړه قافله

دا هر ګام را په شا او دا ولاړه قافله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېږي سره هيڅ نه په انجام يې رب خبر؟

دا چسته زمانه او زموږ شواړه قافله

اختر چې تېر شو ووله نکريزې په دېوال

دا نن يې که مل نه شوې نو بيا غواړه قافله

په ژبه برکت يې شه، شکرې شه، شه ګوړې

دا چا ويل وختي نن سهار لاړه قافله

يارانو بېکسيار بيا غږ جګ کړی د وطن

سبا به روانېږو نيسو واړه قافله.

***

هسې خو تل مې تر حد تېره په والله يادېږې

نن شپه تر هرې شپې مې ډېره په والله يادېږې

ته خو په ورځو، ته په مياشتو، په کلونو لاړې

اشنا په کلي کې چاپېره په والله يادېږې

مينې عجبه معما يې زه له ځان درکې ورک

ځومره چې غواړم دې کړم هېره په والله يادېږې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقیب په ډک محفل کې و پوښتم یادېږي درته ؟

نه له چا شرم او نه وېره په والله یادېږې

شاعران وایي دې نغمې د وخت چې یاد پرې سبا

ته بېکسیاره! ساندې شمېره په والله یادېږې.

***

ورځم وهم قیمار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

زه ازمویم یو وار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

هغه توبې، تسپې یو وخت وو، اشنا تېر شو لاړ

اوس مې ماښام سهار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

پخوا به وخت نا وخت بې سده، یا بې موډ کله؟

کړم د زړګي بیمار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

په خېر د خوب شي را په یاد، یو نا اشنا اشنا!

او نن سبا مي یار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

مفلس خوشال وم په هجران، خدایږ و خو داسې نه؟

لکه چې کړمه خوار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

ما وې که شي ګوندې نشه، راته د ټول ژوندون

کړ را سېوا خمار ساقي، قیمار- قیمار د ژوند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمه د ژوند له بېکسیار، هسې بې ځای اسره

چې کړ ژوندی په دار ساقي، قيمار- قيمار د ژوند.

د اساسې قانون لویې جرګې ته چې له پښتو یې د ملي ژبې هویت واخیست.

***

څه عجیبه دیموکراسي له خلکو ژبه اخلي

اقرار د مرګ ورنه په څنګه سږه تبه اخلي

ننګ او پښتو او وطن ټول یې اوس له واکه وتي

د زمانې سیلۍ نور څه له پښتانه به اخلي

داسې جرګې کارمل، مسعود، رباني ډېرې کړي

والله که نن سبا یې نوم هم څوک په خوله به اخلي

څوک به راځي یو وخت د دې وطن خادم او مشر

ګوتې، امضاوې نه د دغه ولس زړه به اخلي

څوک یې مني نه بېکسیاره! دا د وخت غلامان

دوی ورکوي به چاته څه او له چا څه به اخلي؟.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېخه شړه دې نور هوده را باندې کار نه کوي

مسلې مه کړه بې هوده را باندې کار نه کوي

دومره د وخت ترخو- ترخو کې شوم په وار وارې ډوب

چې د ساقي د لاس باده را باندې کار نه کوي

د یار ادا به چې وژلمه قدم په قدم

څومره تېرېږي چې موده را باندې کار نه کوي

وړی نظر مې نېغ ترې وځي، ځي د سترګو بڼې ته

اوس د اشنا د مخ پرده را باندې کار نه کوي

پښېماني دې اوس کوي ډزې چې څومره يې وس

زما په ټېنګه اراده را باندې کار نه کوي

ته دې اشناپه حد د ظلم کې کمی مه راوړه

حوصله وي به دا چې ده را باندې کار نه کوي

نور بېکسیاره! د زړه شاړ سپرلي نه دمه وتې

اوس که وخت کوږ ځي، که سيده را باندې کار نه کوي.

***

د وخت له سترګو نه پنا یم د خپل سیوري شاته

کله غلام کله باچا یم د خپل سیوري شاته

د بوډۍ ټال مې مېلمه کړی د سپوږمۍ درشل ته

ستا د ښایست رنګونه ښایم د خپل سیوري شاته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شین هسک، زېړی لمر، سمندر غاړه، نو باد به څه کم

د خدای په داد باندې رضا یم د خپل سیوري شاته

ستاسو د کلي اوازې په ما څه کار نه لري

زه له مودو څخه رسوا یم د خپل سیوري شاته

د بې خودۍ اوږدې مزلې خلکه نه شي تنها

دا ځل اشنا راسره بیایم د خپل سیوري شاته

د غړغړو لکه د نورو بېکسیاره! نه یم

یو څو وریتې غزلې وایم د خپل سیوري شاته.

***

دا ته د کومو غرونو شور یې چې مې خیال ته راځې

تصور، یاد، خوب، که انځور یې چې مې خیال ته راځې

رنګه ګودره د مالت په پته پوه دې نه شوم

تسل د مینې، که پېغور یې چې مې خیال ته را ځې

د یار دیدنه پرخه پرخه وربدې چې په ما

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس خو رسا د سرې اور يې چې مې خيال ته راځې

د بې خوديو فصل شين چې دې په غېږه وخته

هغه شپې لاړې اوس څه نور يې چې مې خيال ته راځې

د بېکسيار توره قسمته ته چې مل له تيارو

لا خو هماغسې تک تور يې چې مې خيال ته راځې.

***

راشي پر زړه راته اور بل، بېرته واپس شي په شا

زما ور پام چې لکه غل، بېرته واپس شي په شا

د زړه تر کوره يې په خومره منتو راولم

يمه حيران چې په څه چل، بېرته واپس شي په شا

د اشنا غم راشي دېره وي يو څو شپې راسره

راسره روږدی کړي اجل بېرته واپس شي په شا

د دوه شپو ارګ کې مېشته دا درسره ياد کې ساته

په موږ چې چا کړی يرغل، بېرته واپس شي په شا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېکسیار د زړه پولۍ به خامخا شي پوچې

که د غمو کاروان یو پل، بېرته واپس شي په شا.

***

د شپو په جېل کې ګیر یمه، شوګیر وهلی ناست

مودې وشوې په ویر یمه، شوګیر وهلی ناست

نه مرمه، نه رغېږمه، عجیبه څه ژوندون

ټپي په داسې تیر یمه، شوګیر وهلی ناست

لږ خیاله د اشنا خو، زړه په ما باندې سېځه

ښه وینې مې اسیر یمه، شوګیر وهلی ناست

دا چا راپسې کړي په سرتوره دي ښېرې

د چا د خوب تعبیر یمه، شوګیر وهلی ناست

جوړ کړی مې اشنا ځانته د خیال یو امارت

په خپله یې امیر یمه، شوګیر وهلی ناست

یو خړ پړ میدانی یم بېکسیار بې نوم نښان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوات یم، نه د دیر یمه، شوگیر وهلی ناست.

***

دغه ارمان چې بخت به لاس یوه شېبه راکوي

په مړي ژوند د ژوند احساس یوه شېبه راکوي

ویره یې دا چې میخانه په بله وا نه ړوي

ساقي فرصت چې د گیلاس یوه شېبه راکوي

ژوندون او مرگ مې سره څو- څو واره جمع، تفریق

حاصل یې فکر او قیاس یوه شېبه راکوي

غلیم زما چم کې په اس سپور زه یې مخکې درومم

لکه ماشوم قیضه د اس یوه شېبه راکوي

پرخه په خاورو ډوبېده په چیغو- چیغو یې وې:

"گلان مهلت پر تندي پاس یوه شېبه راکوي"

زما غزلې بېکسیاره! خود به هجر- هجر

بل څه ته وخت کله وسواس یوه شېبه راکوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

ستوري چاپېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

له شپې څه وېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

رقيبه تا چې مې په برخه تورې شپې کړلې

اوس طالع شمېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

نن مې له جامه بېنوا ګوره ساقي چې نه کړې

په مفت مه پېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

د شهادت به مې شاهده وي ضرور چې آګا

له زوَره، زېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

***

نن سبا لا ډېره را ياده وې دا چا ملګرو؟

محبوبه هېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

تل کې يې ډېرې د غم لړې خو ستا مينه اشنا

د زړه برسېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

زه چې راتلم بېګا په ټوله لار، له چمه د يار

تر پورې نېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې ما به تل د خپل ژوندون سپوږمۍ ګڼله

یادېږي ډېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه

بېکسیار تېر هغه وختونه چې کړم خیال کې راتېر

تر سترګو تېره مې سپوږمۍ راته په سر ولاړه.

***

زړه وايي یاره په سر واړوه یوه پیاله زار

مخکې تر داره په سرواړوه یوه پیاله زار

نه د یار شونډو، نه د وخت تر لېمو ورسېدې

تور بخته خواره په سرواړوه یوه پیاله زار

شېخه تر څو به تل خپه- خپه بې واکه ګرځې؟

په زړه بیماره په سرواړوه یوه پیاله زار

د ژوند په هره لوېشت، په هر قدم- قدم شهیده

په مرګ انکاره په سرواړوه یوه پیاله زار

چې کور او ګور او پښتو ټول درنه پښتونه لاړل

اوس له ناچاره په سرواړوه یوه پیاله زار

اور- اور سوچونو، کړېچونو نه لړ غاړې ته شه

د ژوند خماره په سرواړوه یوه پیاله زار

د ځان سوداوې د یار غم سړی عاصي- عاصي کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور بېکسیاره! په سرواړوه یوه پیاله زار.

***

زموږ د چم په لاره، د الوچو ونه نن

د مساپرو، سترو، خوارو بچو ونه نن

څنګه د مرګ غېږه کې، خوره وره پرته وه

لکه کوم چا چې ویشتې په تمانچو ونه نن

په وچو خسو حساب، چې شوه له ځمکې نه پرې

له شنه ټولي را جلا، شوه د باغچو ونه نن

هغه ټیټې ښاخ ته یې، کوم- کوم ماشوم به په زړه

او یادوي به خدایږو د چا، چوچو ونه نن

بېګا یې تن وراره، یوه شین سترګي بوډا

د درد مزې به ګوري، د تبرچو ونه نن

هر دم مې زړه کې قلم، هر دم مې کور کې ځلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ننوتې لکه له دربچو ونه نن

ما وې چې بیا سپرلی شو، سپین سره ګلان به راوړي

د الوچو په تمه په کړلېچو ونه نن

تا خو ګوټ اوښکې ورکړې، د بېکسانو یاره

هر څو که نه شوه را شنه ستا په سوچو ونه نن

بېکسیار وچ لرګي کې د شعر وړم نغاړم

د زړو هنداره کې یې، بړدم په تاخچو ونه نن.

***

اشنا بې تا د ژوندون مل مې کله بل کېدی شي

ته چې منکر یې د زړه غل مې کله بل کېدی شي

حسنه! دا ته یې چې مې خارې ټول ژوندون ګام په ګام

داسې آګا له هر یو پل مې کله بل کېدی شي

ښکلي مې و څارل ختیز نه تر لوېدیزه راغلم

ستا نوم په زړه لیک چې اول مې کله بل کېدی شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستا په نیم نظر لوګی که نه ده شاړه ځواني

د ژوند په لویه لار اجل مې کله بل کېدی شي

منکر به لیکه د بطلان چې پرې راکاږي سبا

هغه به وي همدا غزل مې کله بل کېدی شي

اقتدا مینې پسې کړې بېکسیار د عمر

د لمر په لوري دا مزل مې کله بل کېدی شي.

***

تیارې به تېرې، شپې سبا شي وارخطا چې نه شې

ستوري، سپوږمۍ، لمر به دِ تا شي وارخطا چې نه شې

د قاف په لړو کې مودو- مودو نه مېشته خیاله!

د ښاپېرو ډلې به راشي وارخطا چې نه شې

په کایناتو د وجود کې چې په مینه قایل

سترګې د زړه به دې رڼا شي وارخطا چې نه شې

د وخت تیارو کې ورک پښتونه شم لوګی- لوګی دې

کله به تللی دور بیا شي وارخطا چې نه شې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بېکسیاره! نغارې د حق رسا غږوه

لښکر د ظلم به په شا شي وارخطا چې نه شې.

***

رنځور وختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

ویده بختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

پخوا په تخت به چې ناست وو به د تېري مخالف

اوس څه تختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

د سپین لباسو په جامو اوس وینې نه ښلي

بدل رختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

د انسانیت جوړښت کې عدل یو ځپرکی چې وو

اوس نور ساختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي

نړۍ یې ویني بېکسیاره! چې د زړه په کور دې

تل انداختونه دي په ظلم باندې هیڅ نه وایي.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه تنها وم ته را یاد شوې یاره کور دې ودان

خیر که زه ښکار شوم ته صیاد شوې یاره کور دې ودان

رانه دې لرې خاورې دوړې کړې د سترې ژوندون

د زړګي درمند ته مې باد شوې یاره کور دې ودان

خلک دې وایي څه چې وایي اشنا وایي دې نو

ته که مقتول او که جلاد شوې یاره کور دې ودان

ما وې بې تا به دا وختونه تېروم زه څنګه؟

راته د ټول ژوندون مراد شوې یاره کور دې ودان

بېکسیار مري او که رغېږي دا یې خپل نصیب به

ته یې پیغام د زنده باد شوې یاره کور دې ودان.

***

)ګل د ګلاب بوی د سنځلې

قد د چنار سیوری د ولې(

هم چې ځواني او هم مستي وي

خوب مزه کا په مټ د ښکلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ګوره مه، راباندې غږ کړه

کړه مې اسیر ولې مې ولې

ستا یاد وطن، اشنا زما هم

دواړه به ځو که چېرې تللې

زه ملامت خو ته لږ راشه

ده وینه چا په وینه وللې

دریغه پردو بېکسیاره لوټ کړای

څه به ګیله کړې ښوک له خپلې.

***

سترګې دې را یادې شي له سترګو مې اور و اوري

هیلې مې بربادې شي له سترګو مې اور و اوري

وایم چې لوګی شوای ځنې بیا بیا چې وربولي مې

زړه ته چې صیادې شي له سترګو مې اور و اوري

څنګه تلوسې د ژوندون و خاندې په شنه سپرلي

څرنګه نامرادې شي له سترګو مې اور و اوري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله وي شاعرې د اشنا سترگې مسرې پرې لیک

کله بیا نقادې شي له سترگو مې اور و اوري

وینم په ښادۍ چې ځي د هسک پېغلې تر ړنگ گودر

وینم چې ناښادې شي له سترگو مې اور و اوري

بیا بیا دې اقرار په سترگو بیا بیا دې انکار را شین

وخت په وخت جلا دې شي له سترگو مې اور و اوري.

***

په اصل نه په ظلم کې بوش پلار دی د یزید

دا وینې د انسان ښځل دغه کار د یزید

نن یو ځای، بېگا بل ځای، سبا بل ځای دا حملې

ښکارېږي چې مرگی ته یې تلوار دی د یزید

ترلې یې ده ملا د ټول جهان د هضمېدو

یا مري به بشریت تمام یا وار دی د یزید

تر څو به وي د ظلم داسې توره تروږمۍ

د عدل لمر به وخېژي بخت خوار د یزید

ختیز نه تر لوېدیزه پسې چیغې د جهاد

د ژوند هر هر ساعت یې اوس په شمار دی د یزید

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملخ د زمانې داسې تر څو به وهي ترپ؟

مظلوم ولس يې وينو ته خمار دی د يزيد

ډارن شاعران وايي به دا څوک داسې لګيا؟

سندرې د مرګ وايي بېکسيار دی د يزيد.

***

ښه پوه يم راځي نه څه بې ځايه تلوسه مې ده

ژر ورشه ريباره ورته وايه تلوسه مې ده

هره تادي، هره بيړه وي د کار تر پيل پورې

مينه څه عجبه، څه بې پايه تلوسه مې ده

نېغ يو ځل را وګوره د کور ستونه څه کوې؟

نه ستا تر ډوډۍ نه ستا تر چايه تلوسه مې ده

کله زه کړکۍ ته شمه، کله زه هندارې ته؟

ځان ته چې ښه ځير شمه له ورايه تلوسه مې ده

يا خو وای راغلی اشنا، يا مې هېر د خوب په شان

نور مې صبر نه شي لويه خدايه تلوسه مې ده

کله دې ياد راشي، کله وېرم، کله خيال شي را

ځای د اوسېدو دې راته ښايه تلوسه مې ده

نور مې ناارام خاطر په هيڅ بل څه ارام نه شي

ستايه بېکسياره! ښکلي ستايه تلوسه مې ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

درېغه چې وای خو څه شراب اوس به نشه نشه وای

زه او دا دومره اضطراب اوس به نشه نشه وای

که رقیب نه کړای په اپلتو زما وخت را خراب

ولې به وای داسې خراب اوس به نشه نشه وای

د اندېښنو ور مې زاهده ټکوې څله تل؟

کړمه اخته دې په عذاب اوس به نشه نشه وای

درېغه محفل ته وای راغلی له اوله بې سد

پروا به څه مې په جناب اوس به نشه نشه وای

هم چې ځواني، هم چې مستي، هم لېونتوب وای اشنا

خیر که د یار په مخ نقاب اوس به نشه نشه وای

ښکلي، بدرنګ نیمزالي ټول به اوس یو شانې راته

ولې به ښکلیو ته بېتاب اوس به نشه نشه وای

بېکسیار ولې به جنون ته ورځې شپې شمارلې؟

که شاعري یې د شباب اوس به نشه نشه وای.

***

په بې اجله مرګي مړ شومه

د رقیبانو مخکې پړ شومه

ما وې ساپې، ما وې بابړ ټولوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د ساپي نه د بابړ شومه

په ناوګۍ کې مې لښکر شو لوټ
ډېر ګيله من له باجوړ شومه

وم د اشنا خوا کې رنګين سپرلی
په بېلتانه کې داسې خړ شومه

ما وې ولس ته به پيغام وړمه
د ماشومانو د پاړ شومه
په تول د بوسو کې هم تېر نه شوم
د ژوند اخور کې وچ کنګړ شومه
زه راوتم د يار ډولۍ راغله
بېرته دننه په انګړ شومه

د بې خودۍ په منزلو کې بند
نه بېکسيار او نه اندړ شومه.

***

مري به څنګه چې په ژوند د چا يقين وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ژاړي پرې او دی له خندا شین وي

کور او ګور يې غم لړلی فلسطين وي

بل نو څوک کېدای شي دا به شيخ ياسين وي.

***

قار دې لړ سوړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

په خوله مې موړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

د سر په بيه کړه ستا ګران ديدن غريب يم اشنا

نرخونه جوړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

چې په کابل نه په زابل دې وي څوک ساری بخته!

ځان امير کروړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

اوس مې د شل کاله پخوا په شان اشنا مه چېړه

فرق د ځوان، زوړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

په مينه وايي دې تومت جوړه دنيا زړګيه

ته ځان ناجوړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

دغه ماښام، دغه باران، دغه ښوروا بيا خدايزده؟

غټ پياز را ووړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې پای سوچونه د ژوندون ټول کړه را ټول جانانه!

دا يې نچوړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

د اشنايۍ په پاس لړ ورشه نور دره و ګوره

سيل د سروړ کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟

اشنا ته ورکړه بېکسياره! ځای په سرای د زړګي

خوی د اکوړ(1) کړه د سبا ورځې څه پته لګي؟.

***

يار را روان که وي را وبه رسي

تېر له خپل ځان که وي را وبه رسي

اشنا چې ته ماته يې وي چې راځم

بې شکه ځوان که وي را وبه رسي

چا اوربېدلی وو محفل کې جرس

مل د کاروان که وي را وبه رسي

ما خو اشنا غوښته چې ويې لمانځم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک مې ارمان که وي را وبه رسي

زما په داسې توره ورځ چې آګا

زما جانان که وي را وبه رسي

د بې وطن بېکسيار کټ لرې تم کړئ!

پاتې ياران که وي را وبه رسي.

***

زړګيه ستا دا کشالې، ژوندون به ځنګه کېږي؟

د مرګ دردونه چې پالې، ژوندون به ځنګه کېږي؟

دنيا ته ځان ثابتول غواړي په کاڼو نوم ليک

زموږ ناچله قوالې ژوندون به ځنګه کېږي؟

موږ لا په يو بل لګوو خولې ځينې وينې ځبېښو

موږ لا نه پېژنو پيالې، ژوندون به ځنګه کېږي؟

خلک د ژوند د سمندر په تل کې لامبي، ناځې

زموږه مړي وړي ويالې، ژوندون به ځنګه کېږي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خو لرې به بېکسياره! ډېرې ډېرې هيلې

مېنه د زړه چې کنډوالې ژوندون به څنګه کېږي؟.

***

دریغه لیدلی چې مې یار اوس به نشه نشه وای

ولې به وای داسې خمار اوس به نشه نشه وای

ستا د انکار له بې سدیو مې توبه توبه ده

دریغه چې کړی دې اقرار اوس به نشه نشه وای

په خوب کې راشې چې را ویښ شم تر سهاره ژاړم

په ویښه راغی که نګار اوس به نشه نشه وای

د ژوندون باده که راغلی وای محل ته یو ځل

کډې به بار وای د اغیار اوس به نشه نشه وای

هسې اشنا چې لږ خبر دې د راتلو راتللای

ژوند به مې ولې سور انګار اوس به نشه نشه وای

دا خو د عقل دسیسې دي زه یې ټینګ تړلی

زما په وس که څه اختیار اوس به نشه نشه وای

د بېکسیار یورپ ځواني خزانو ولوټله

سپرلی راغلی که یو وار اوس به نشه نشه وای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

لاس کې یې لور پروت په ولې پړی دی

زړه رانه لوګرې جینۍ وړی دی

خیال د خیالورې مې مل شوی چې

مانه پردی شوی خپل هر غړی دی

بار مې د ژوندون مړی مدام په سر

لاس راکړه اشنا زړګی مې ستړی دی

وینه ترې د چم خبرو وخوړه

ستا پردېس شاعر چې لکه مړی دی

وژني بېکسیار که څوک د عشق په تور

وژني دې نو دغه کار یې کړی دی.

***

لاره دومره نه ده رسېدو ته دې که نیت کړی

لېڅو د سپوږمۍ کې ځنګېدو ته دې که نیت کړی

څو به لوغړن ګرځم اشنا زه بې له تا داسې؟

ومې سېځه راشه لوګېدو ته دې که نیت کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوډ داسې وسله ده چې نصیب یې سوبه هر مقام

زهر هم خواږه شي ګوتېدو ته دې که نیت کړی

ډېر راشې په خیر اشنا ټولۍ ته د مینو خوا!

سر نه د زړه سره تېرېدو ته دې که نیت کړی

خانده په ژوندون چې خپه نه کړې بېکسیاره! ځان

خپله به زهیر یې ژړېدو ته دې که نیت کړی.

***

د خپل تقدیر په فیصله کې به څوک څه ووایي؟

اوري یې نه چې څوک، ګیله کې به څوک څه ووایي؟

یوه خوا ظلم دی چې کېږي بله خوا بې وسي

د ژوند په داسې مرحله کې به څوک څه ووایي؟

نه یې لاربه چې، نه منزل او نه یې غږ را معلوم

په بې جرسه قافله کې به څوک څه ووایي؟

خدایزده که دا ځلې جرګه شي څوک زموږه تر منځ؟

د مرګ او ژوند په مسله کې به څوک څه ووایي؟

یوم البدتر نه چې خبر وي او مني یې له زړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د وختونو سلسله کې به څوک څه ووايي؟

کرزی خو نه ده چې له وخت سره بدلېږي هر وخت

د احمدشاه بابا شمله کې به څوک څه ووايي؟

څنګه په پټه خوله دې تېرې کړې نادودې د وخت

ستا بېکسياره! حوصله کې به څوک څه ووايي؟.

***

دغه چا وې د تربرونو وينه توی شوه

خورم قسم د سکه ورونو وينه توی شوه

ميندې بورې، خويندې ورارې شوې له مخې

د بچو او د پلرونو وينه توی شوه

نا انسانو پرې ګوزار بې شمار بمونه

د دې څمکې، د دې غرونو وينه توی شوه

دا ژوندي چې دا په هيڅ هم حساب نه دي

بې حسابه د سرونو وينه توی شوه

د بانډو، درو ، د کليو څه حساب کړې

د بسته بسته ښارونو وينه توی شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ترې تمې ګورګورې او ممانې

د ښېرېو، چنارونو وینه توی شوه

آفرین یې په همت وایه جلاده

د دې خلکو په وارونو وینه توی شوه

ټوله شپه شپې قتلول سپوږمۍ او ستوري

سپېده داغ د سهارونو وینه توی شوه

ما کاته ورته زامنو پلار په دار کړ

د ورېرو په لاس د ترونو وینه توی شوه

ټوله پته بېکسیاره! یوالله ته

په ویالو او په نهرونو وینه توی شوه.

***

سودا د یاره سره ګرځي مې احساس لاس په لاس

د بېلتانه غم رانه وړي دي حواس لاس په لاس

بې اعتباره زمانه شوه حیا والوتله

اشنا محفل کې له ساقي غواړي ګیلاس لاس په لاس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ريبار كه څومره احوالونه مې د صبر دروړل

را و دې نه لېږه اشنا كله شاباس لاس په لاس

ښه له هر چا سره تل ښه دي خو وېرېږم اشنا

نه چې ملګرى درسره شي څوک بې پاس لاس په لاس

اشنا هواره كې ارام ته مو څوک كله پرېږدي؟

درځه چې وخېژو دې تورو غرو ته پاس لاس په لاس

ما لا د مينې بېكسياره! نوم اخيستى نه و!

راپسې راغلل تومتونه او وسواس لاس په لاس.

***

لكه چا ښه چې په ژړا تش كړى

هسې مې زړه نن په اشنا تش كړى

تر سباوونه يې سلګۍ وهلې

وې يې د مينې ميدان چا تش كړى

يو وخت چې مالامال د يار له مخه

د زړګي كور مې چا په غلا تش كړى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بې کسۍ نه غاړې، غرو نه ژاړي

مرګي وطن مې لا په لا تش کړی

اوس پکې بې له میني بل څه نشته

دوکان د ژوند مې له سودا تش کړی

وخت بېکسیار هسې پرې غل ونیوه

د زمانې جېب چا پخوا تش کړی.

***

ستا که د تللي پېغلتوب هوا له سره نه ځي

زما لیدلي د یو خوب هوا له سره نه ځي

زه تورو خاورو سره خاورې شوم په ځوانه ځوانۍ

ستا د مستۍ او یاغیتوب هوا له سره نه ځي

رقیب که ستا سودا په زوره مې له سره باسي

د چا د مخ څټ په پړسوب هوا له سره نه ځي

ږیره مې سپینه شوه غاښونه مې له یو مخې توی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې لا هم د زلمیتوب هوا له سره نه ځي

ځومره ساده دي خلک وايي اشنا مه يادوه

له لېوني د لېونتوب هوا له سره نه ځي

بېکسیار څه کړم جنتي اوبه هوا د یورپ

نه د ترنک او نه د ژوب هوا له سره نه ځي.

***

را روان په ملک چنګېز دی اسمان ورېځ دی

د مظلومو جست و خېز دی اسمان ورېځ دی

ښکته ځمکه ده چې چوي له هیبته

باران اوري او ښه تېز دی اسمان ورېځ دی

همدا نن چا وې ورځي چې بغداد چور کا

امریکه ده او انګرېز دی اسمان ورېځ دی

باد د کرکې دی چې لګي په هر لوري

سیلۍ لوټ د بخت پالېز دی اسمان ورېځ دی

شپه خو شپه ده، سپینه ورځ هم توري لړې

له رڼا نه ژوند پرهېز دی اسمان ورېځ دی

څو نیمزالې په تیاره ماښام اوبه وړي

ګونګوسی یې په کارېز دی اسمان ورېځ دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېکسیاره! ښکلې شنه له خندا نه شوه

بس همدغه يې اغېز دی اسمان ورېځ دی.

***

د ژوند په تمه د تابوت په غېږ کې شپې اړوم

يو ځاځکي شور ته د سکوت په غېږ کې شپې اړوم

د ژوند سرې، تودې اوس هيڅ راباندې کار نه لري

د بې خودی د کاڼي بوت په غېږ کې شپې اړوم

د بېلتانه په راتګ ما چې کله شک به کاوه

شک مې باور شو د ثبوت په غېږ کې شپې اړوم

د بدمستيو، عيش او نوش به مې چا دروغ ويلي

هسې د قوت او لايموت په غېږ کې شپې اړوم

له خلکو تښتم چې مرغانو په شان ونو ته ځم

کله سنځلې کله توت په غېږ کې شپې اړوم

دلته چې هر غدار راځي ځان کړي بزرګ د زمان

ولس مې وايي د طاغوت په غېږ کې شپې اړوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه مې اوري بېکسياره! افغاني سيد تل

زه که دمشق که د بېروت په غېږ کې شپې اړوم

اوس به طالوت شي راته څوک، څوک به حضرت داود

ملګرو! ګورئ د جالوت په غېږ کې شپې اړوم.

***

د سپېده داغ غيږ کې يوه غېږه وربېځ

نه سباوون ښکاري نه ستوري او نه لمر راښکاره

نن هم د تېرو څو کلونو په شان.

***

مړه يو په ځان باندې ډيوې بلوو

په خپل ارمان باندې ډيوې بلوو

د يار ښکالو مو اورېدلې نه وي

په تش ګومان باندې ډيوې بلوو

ستا منزلونه رانه پاتې اشنا

په لوټ کاروان باندې ډيوې بلوو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور چې سرتوره، پلار چې وژني راته
مورې هغه ځوان باندې ډیوې بلوو

تر تورو لړو مو نظر نه رسي
په شنه اسمان باندې ډیوې بلوو

زمورې له خپلې نافهمۍ مرور
په شته جانان باندې ډیوې بلوو

افغانستان لکه پردی کور سوځو
په خراسان باندې ډیوې بلوو

زه بېکسیار یو امریکن او یو روس
تباه افغان باندې ډیوې بلوو.

***

ماښام راخور د غره پر ولو دی
وخت د توبې د ماتولو دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروردګاره ته يې وبښې

بېکسيار کله د بښلو دی.

***

مینې سترې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

ته نیمګړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

زه پردی همداسې ښه يم، نااشنا ته

ما هيڅ کړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

همدا زه يمه چې وينې وينې پروت يم

حيرت وړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

ستا ګیلې، ښېراوې ماته په سر سترګو

خود شخړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

انجمن د وصل، هجر او د اور کې

خدايړو غړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

تلوسه ښه يې وژلای دې ځوک نه شي

چې وګړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې

بېکسيار ته دې رنې چې اوبه نه شوې

اوبه خړې مه شې ښه شوه چې بيا راغلې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

حسن یې نظر سره غرض لارۀ

سم یې د زړه سر سره غرض لارۀ

په کنګلي هوډه! چې وې داسې سست

ولې دې بیا لمر سره غرض لارۀ

نه منم زه دا چې سپي دې و داړي

خوار که د چا ور سره غرض لارۀ

وخت ته که تېره توره په لاس نه وای

ما به څه له سپر سره غرض لارۀ

مینې بې ګونا کړم بېکسیار اسیر

ما کله دې شر سره غرض لاره.

***

ټپي- ټپي یم په پرهر مې مالګې مه دوړوه

په وینې- وینې د زړه سر مې مالګې مه دوړوه

بس دی چې خاورې دې یادونو کړم له خاورو سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور په سوري- سوري ځيګر مې مالګې مه دوړوه

د روح شرمن مې رانه کښلې د بېلتون سيليو
په بې شرمنې خوار بشر مې مالګې مه دوړوه

په تېرو تورو غوځوه مې تن چې څومره دې وس
اشنا احساس باندې اکثر مې مالګې مه دوړوه

وخته تختونه به دې ډوب شي که بختونه را ويښ
په ښکارې ويشتې مات وزر مې مالګې مه دوړوه

د تخيل تلې مې پرې- پرې په هيندارو د وخت
نور بېکسياره! په ګذر مې مالګې مه دوړوه.

***

داسې په منډه چې روان يم ځم د لمر کلي ته
چې نه په بل او نه په ځان يم ځم د لمر کلي ته

بس په توکل به ور رسېږم نور مې کومه اسره؟
زه د ناهيلو يو کاروان يم ځم د لمر کلي ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تربورګلويو، ورور وژنو نه يم سترې- سترې

د يويشتم قرن افغان يم ځم د لمر کلي ته

راکې سپوږمۍ، ستورى او سپين سپېده داغ اوسي مدام

ځانته په خپله يو جهان يم ځم د لمر کلي ته

د يورپ تورو وريځو و خوږمه دوه لسيزې

ډېر په ارمان د شنه اسمان يم ځم د لمر کلي ته

نظر او فکر، تخيل مې بېکسياره! ګڼ وډ

سوچ سره تل لاس او ګرېوان يم ځم د لمر کلي ته.

***

تېره شپه چې مې غزل ته شيمه نه وه

په قسم چې مې مزل ته شيمه نه وه

ارادې راتلې د لريو لارو ډېرې

خو زما غريب يو پل ته شيمه نه وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي"

د ملګرو ژور تل ته شيمه نه وه

دا خو تا وم رابللی چې زه راغلم

خو زما ګوره محل ته شيمه نه وه

د اشنا بلا يادونه مېلمانه مې

د مرګ زړه، زما اجل ته شيمه نه وه

بېکسياره! ما وې ګوندې پښتون واوړي

له قاتل چې مې بدل ته شيمه نه وه.

***

ماته محفل کې اشنا کله کله کتل

رقيب اشنا ته خو پخپله کله کله کتل

زه وايم بې له ما يې کله هم بل خوا نه کتای

دنيا غوسه ده چې يې څله کله کله کتل

هغه ماښام به شنه اسمان کې څه د ستورو اتڼ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانان او ما چې يو تر بله کله کله کتل

سترګې ديدار لره پيدا دي خوشال ښه ويلي
دريغه چې ژوند مې تل تر تله کله کله کتل

په بېکسيار باندې يې هم پېرزو کوه وخت ناوخت
د تخيل د شاړې ګله کله کله کتل.

***

خير دی که مخ يې بل رنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
په دې به څه کوو جنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
په اصل، نسل، قبيله باندې يې نه يم خبر
ښايي له ځايه پرنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
منم د سرې بنارسۍ کميس به نه يې په تن
نه يې په غاړه لونګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
ماته وعده خو يې شپېه- شپېه را اوري په زړه
و دې شي وکوي ننګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
زه يې پيالو ته نه، ديدن ته د ساقي ور روان
چې ميخانه مې قلنګ سترګې خو يې ستا غوندې دي
څوک نا اشنا راته مودو نه د خيال لارې څاري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته په زړه وهي چنګ سترګې خو یې ستا غونډې دي

بېکسیار دومره ډېر خطا هم اشنا نه دی وتی!

د چا د در چې ملنګ سترګې خو یې ستا غونډې دي.

***

له سترګو دې غزل ته څه الهام واخلم که نه؟

ساقي ستا اجازه ده چې بل جام واخلم که نه؟

زړګی په دې ګواه دی چې راځې خو وېش دی نن

ګودر، زه مازیګر او که ماښام واخلم که نه؟

سر تېر له ننګ او نومه راته وایي هر اشنا

حیران یم چې رخصت له ننګ او نام واخلم که نه؟

دا هسې یو هوس دی یو ارمان پوره کوم

وصال کې به هم خدایزده چې ارام واخلم که نه؟

راوي زما زمولي یې سپرلي کې ډېر ګلان

لا اوس یې هم په سرو سترګو سلام واخلم که نه؟

بې شکه بېکسیاره! چې له بخته لاس په سر

په سوچ کې یم چې وخت ځانته غلام واخلم که نه؟.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

درواغ نه وایمه ولا چې زه مین په سپوږمۍ

خدایزده چې دا څویمه پلا چې زه مین په سپوږمۍ

دغه راڼه ستوري، چې ګورې د ښکالو پلونه مې

ژر به ور رسم انشالا چې زه مین په سپوږمۍ

دا یې اوله ورځ، میاشت نه، نه یې لومړۍ کلیزه

کلونه واوښتل بلا چې زه مین په سپوږمۍ

شکر چې نه د چا ناموس، نه ننګ حیا، خور او لور

چیغې وهمه برالا چې زه مین په سپوږمۍ

لیلا مجنون تللي د مینې په نوم لار خو نشته

زه به ورځم په بسم الله چې زه مین په سپوږمۍ

نه د چا ور، نه د چا بام، نه د چا لوري څارم

نه چاته ګورمه په غلا چې زه مین په سپوږمۍ

چې پرې اوښتی بېکسیاره! نه وې واوښتلې

اوس نو توکل مې په مولا چې زه مین په سپوږمۍ.

***

یار چې بیا را مخ شو، بیا ګیله مې په سر واوښته

صبر مې تم نه شو حوصله مې په سر واوښته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د خیال نیمزالې وړمې ټول عمر تازه اوسې

دا خو ستا له بخته ولوله مې په سر واوښته

داسې د غفلت په خوب ویده وم ټینګ په نیمه لار

ما باندې خته تله قافله مې په سر واوښته

کړی له مودو مې چې د نه درتلو قسم و ټینګ

مینه ټکنی، شوه فیصله مې په سر واوښته

زه بېکسیار داسې لېونی شوم له هغې ورځې

ډکه چې له خیال د یار پیاله مې په سر واوښته.

***

نن مې پیاله د چا له سترګو ډکه

په زړه ګیله د چا له سترګو ډکه

ما ور کاته خو شرمېدمه ورنه

سپوږمۍ چې تله د چا له سترګو ډکه

دواړه یادېږي مې جرګه د ښو

او فیصله د چا له سترګو ډکه

ړوند په کلو چې پسې کال کې کله

شېبه ایله د چا له سترګو ډکه

چا ور کتلي به وي ډېر ور پسې

چې قافله د چا له سترګو ډکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سر په اوږه يې بېکسيار ته ايښی

لا يې شمله د چا له سترګو ډکه.

***

شوله د وصل شپه په دار چې ستوري يو- يو پنا

په تورو- تورو غرو مې لار چې ستوري يو- يو پنا

راغلې نه وه لاړه تېره شوله دا څنګه شپه

زما سپوږمۍ ته انتظار چې ستوري يو- يو پنا

شين اسمان، سپينه سپوږمۍ خړو خړو ورېځو کې ډوب

لمنه ټوله د بهار چې ستوري يو- يو پنا

ورته مې خيال هومره هم نه وي وهي سترګې مدام

د ننداري يې نن خمار چې ستوري يو- يو پنا

تل خاطرو ته د يادونو غمازي مې کوي

اشنا مېلمه په ژوند يو وار چې ستوري يو- يو پنا

***

هسې هم نه ده چې يادېږي تل رڼاوې د وخت

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه شپېه هم یو یادګار چې ستوري یو- یو پنا

شمه بېکس چې بېکسیار وړم پنا تل ستوریو ته

خدای مې دې نه کړي هسې خوار چې ستوري یو- یو پنا

اشنا یې نشته چې په ورو- ورو الاهو یې ویده

څنګه به خوب وړي بېکسیار چې ستوري یو- یو پنا.

***

دښمن ښه دې چې وهي دې په مغزي

تر هغه دوست چې کري درته اغزي

تر کوتېه سپي زار رسا په سرې دانګې

نه په چم چم کې دارڼه د تازي

***

له خدایه نه چې، له بنده څه پتېه؟

زما په شان د شرمنده څه پتېه؟

که د جهان عطرونه وشیندې پرې

بوی به یې لګي د ګنده څه پتېه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ایمان دی چې ظالم به پړ شي

ساتم به ټینګه عقیده څه پته؟

قسم په خدای چې را یادیږي مدام

ښکلې! له تا مې څه پرده، څه پته؟

یم حرامخور که شرابخور، یم ځانته

کوم له چانه به سجده څه پته؟

بېکسیار نیت د غزل نه وو کړی

اشنا له تا مې اراده څه پته؟.

***

ژوند هینداره، که شیشه ده مینې ته یې

بې سدې ده که نشه ده مینې ته یې

غره ته ګورمه، که ستوري، که سپوږمۍ ته

څه عجبه تماشه ده مینې ته یې

تن مې بند- بند که ورتېږي په مږه اور کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په زړه مې پلوشه ده مينې ته يې

مينې ته يې چې دې قيس په غرو رغو کړ
د فرهاد په لاس تېشه ده مينې ته يې

بېکسيار يې گومارلی چې به ليکي!
شاعري که څه پېشه ده مينې ته يې.

***

سپوږمۍ څومره نېکمرغه يې څه لاره دې رڼا
ذره هم درکې غلا نه، هره چاره دې رڼا

د ژوند تياري کړکۍ ته لاس زما دې چې را اوږد
د زړه تياره جونگړه کړه له واره دې رڼا

د ځمکې ړوند مخلوق درېغه له تانه يې څه زده؟
درې، باندېې او کلي ټول له ښاره دې رڼا

بې شکه به د کلي ماشومان ستا په ارمان
گودر دې، مازيگر دې او شودياره دې رڼا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانږه دې رب لره ستوري تل دوا کړي بېکسيار

شه غېږه دې څو چنده او بې شماره دې رڼا.

***

ويده په خوب کې بيا- بيا چاى دموم

چې ويښ په خيال کې د چا چاى دموم

څوک به راځي ګوندې عمرونو نه پس

شېبه- شېبه چې لګيا چاى دموم

سترګې ګنډلې مې په وره کې د کور

په پخلنځي کې بسيا چاى دموم

ما خو نظر يې لا وچ کړى نه دى

د زړګي سر ته به لا چاى دموم

مجلسي يار که يو وار رب راولي

زه به سهار او بېګا چاى دموم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه کوچیانو چې اور بل سپوږمۍ ته

چاپېره ستوري، رڼا، چای دموم

ما بېکسیار وې د زړه غوښې ورکړم

خو د اشنا چې سلا چای دموم.

***

ژوند

ژوند یانې څه؟

ژوند یانې باد کې سفر

یانې باران کې مزل

په سپیده داغ کې راویښ

په سره غرمه کې ویده.

***

کله لر مې زړه ماتېږي

کله بر مې زړه ماتېږي

وې د ښکلیو په اسره کې

چې اکثر مې زړه ماتېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بمبارد په توره بوږه

لکه غر مې زړه ماتېږي

لور په لور نارې د هجر

سر په سر مې زړه ماتېږي

یار چې مړه- مړه ګوري نور څه؟

برابر مې زړه ماتېږي

د اشنا په بېلتانه تل

ناخبر مې زړه ماتېږي

په دیدن پسې ملنګ یم

په هر ور مې زړه ماتېږي

بېکسیار مین په مینه

او په شر مې زړه ماتېږي.

***

چې چېرې به یې بیایې دا نیمګړې برخه خواره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند او مرګ جګړې ته نېغ ور ووت سمد واره

ګردونه يې له پلونو نه خاته په پړونده لاره

له دغه کلي دغه خلکو لاړه مرور شو

غړونه پسې ډېر کېدل چې پام کړه بېکسياره.

***

زه څه خبر چې سمندر په شان ستا زوی ومه زه؟

ما خو ګڼله چې پيدا همداسې لوی ومه زه

د احساس ډېر يم احسانمند چې لږ ناوخته راغی

زما سينه خو يو ډک جام دی اوس به توی ومه زه

ماته څه پته چې مور څه او مورنۍ مينه څه؟

زه خو کاکه ومه په هر څه- هر څه پوی ومه زه

حق به ادا دي مورې خدايزده خو کوښښ به کوم

که د پښتو ادب په بڼ کې سخنګوی ومه زه

د چا له زړه دوعا ساتلی بېکسيار يم ضرور

ګڼې بټۍ کې د حالاتو به الوی ومه زه.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاونده بیا سپرلی شو ګودر لارې مې یادېږي

الوتې ترې ایله واوره شودیارې مې یادېږي

د کلي هغه بر سر ته شینشوبو کې غاټول، ټول

ویالې ډډ ته د توتو د باغ بارې مې یادېږي

په دغو لارو هر وار زه که ځمه که راځمه

بلا- بلا د چا سترګې خمارې مې یادېږي

په وچو تورو غرونو کې د هجر سیلۍ سترې

باندېو ته مې خیالونه ځي هوارې مې یادېږي

ساقي درته به څه کوم د یار د یاد شمېرونه

چې هر وار رپوم سترګې هر وارې مې یادېږي

له ښکلیو د یورپ څخه بېزار زه بېکسیار یم

اندړې مې په زړه اوري، شینوارې مې یادېږي.

***

شاعره شپه ده، شاعر خیال مې د سپوږمۍ په ننداره په موسکا

هر خوا چې ګورم بس له ورایه ځنګل، غر او سین ښکاره په موسکا

ماته له قصده خلکو مخکې اشنا ډېر- ډېر وې څه بیا رانه شې

د ستنېدو يې راته وکړه بڼو لاندې اشاره په موسکا

د زور، د ظلم، د وژلو، زولنو او زندان څه حکومت؟

منم هغه چې که چا وکړه د وګړو اداره په موسکا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له میکدې نه که هر وارې ساقي و ایستم په تروشه تېنده

خو زه په بیا- بیا ورته راغلم په زاریو دوباره په موسکا

بس هماغه دی پوره سات چې شو اوبو کې خپل تصویر سره ګډ

په جنجالو ډوب بېکسیار خوار او حیران او بېچاره په موسکا.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نظمونه

اختر

شل کاله وروسته،

زه د چرمي درې نفري کوچ په دا منځ کې ناست

او شاته مې تکیه وهلې،

راته په مخامخ دېوال باندې

ځړېږي د توحید کلمه،

ترې لاندې دوه کرښې زما یو پخوانی شعرګوټی،

او تر هغه رالاندې،

د الماری په څنډه یو لیکه

کتار څو تور او سپین عکسونه،

اول خلیل پاس د بیهي ونه کې،

بیا اسماعیل یون، بیا ارمان

بیا سیدعمر او قاسم،

الماری ټوله، تر خوا دوه نورې هم،

له سولېدلو، سوځېدلو او خیرنو، پاڼې پاڼې

کتابونو ډکې،

نن اوویشتمه روژه،

زه د سهار لمانځه ته شمېرم شېبې خوب رانه ورک،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا يا بل سبا- يا بل سبا اختر به ضرور

ماته به ته زياته

تر شل كاله پخوا يادېږي.

***

تړاو

زما د لاس گړۍ کې هر ځلې ساعت شي پوره،

زما غوږو کې زه که هر چېرې يم،

د خبرونو يو زيگنال وشي،

د خبرونو سرخط:

"امريکايي پوځونو،

د توري بوړې په شاوخوا سيمو کې،

د القاعدې د مسلمانو بنسټپالو يو ټولی تباه کړ"،

...

"امريکايي پوځونو،

د فلوجې په ښار کې،

د القاعدې د مسلمانو بنسټپالو

څه نا څه دپاسه دوه زرو نه زيات کسان له منځه يووړل"،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



....

"امریکایي پوځونو،

د پاکستان په سرحدي سیمو کې،

د القاعدې د مسلمانو بنسټپالو

یوه لویه ډله ونیوله"،

....

اسرایلي پوځونو،

نن د غزې د ښار لوېدیز برخه کې،

له ښوونځي نه د راټګ په لاره،

دوه اووه کلن فلسطیني ماشومان،

د ماشینګڼو په سرو ډزو کې غلبېل- غلبېل کړل،

د القاعدې له مسلمانې بنسټپالې ډلې،

سره تړاو یې لاره.

***

باران

کیږدۍ کې ستونیستاخ لیمڅي باندې پروت

غبرګو لاسونو باندې سر مې ایښی

ورو- ورو غړېږي راته ساز د باران

د وریو، مېږو یوه لویه رمه

ځوږ- ځوږ غوږونه چوپ بهر ولاړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه مین چې په آواز د باران

تر ما هم کله له پرانیستې کیږدۍ

د باد څپه راوړي، څپه د څاڅکو

نغاړم ترې ځان نه، اخلم ناز د باران

په مخامخ غره کې تک ژېړ لمر ګوره

دا یو ځای اوري، یو ځای نه چې اوري

په دې کې هم به وي څه راز د باران

خدایزده چې اوس څومره شېبه به تېره

چې بېکسیار ډوب یم په خیال کې د یار

راڅخه هېڅو هېر آغاز د باران.

***

د ابد دپاره

ځم د غنمو طلايي فصل ته اور اچوم،

پاس د شوتلو

کوز د جوارو

شنو پټيو ته پاده ور پرېږدم،

چې په یوه شېبه کې جوړ کړي

ترې د بر کلي ډاګ،

او هغه پورې ډک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرو منړو باغ،

په ګیلمجمو چور کوم چې یې د سوند لرګي کا،

رېدي ته وایمه چې نه به راځي،

غاټول ته وایمه چې کډه دې شي،

زه د وطن په غرو رغونو

شاړو دښتو

په میرو

او په هوارو باندې،

تر هر څه، هر څه نه اول د ژوندون کر کومه،

هسې نه تخم یې ورک نه شي

د ابد دپاره.

ژوند

دا ژوند عجب ژوندون دی

عجیبــه یـــو قـانــون دی

ارمان ارمان کې ومره

ارمان ارمان کې ومره

دا ژوند څه عجیبه دی

د ټولو غم لاربه دی

د خان که د غربه دی

شېبه په شېبه تلون دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمان ارمان کې ومره

په خپل کور که سارا یې
مجنون او که لیلا یې
غني، که بېنوا یې
په برخه دي بېلتون دی
ارمان ارمان کې ومره

باران ورېږي ناست یم
شېبه وروسته به ملاست یم

الله پاک ته په خواست یم
په دي مې شین لړمون دی

ارمان ارمان کې ومره
زه مینې ته بې وسه
د زړه اشنا را رسه
حالاتو ته بې کسه
قسمت زموږ پښتون دی
ارمان ارمان کې ومره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیران زه بېکسیار یم

له هر سړي وېزار یم

د وخت په چار ناچار یم

بس کړی مې ترون دی

ارمان ارمان کې ومره.

***

هوس

چې نیمه شپه د لیدو هوس دې

زما د خوب په درمندونو باندې سیوری وکا

لېمو کې ډنډې له ماشامه اوښکې

د ګرېوانه په لوري، لوری وکا

چې نیمه شپه شي د لیدو هوس دې

زما د صبر کاسه واړوي نسکوره یې کا

خوا مې له ژونده چې له ځایه سړه

ورځخه سل چنده لا نوره یې کا

چې نیمه شپه شي د لیدو هوس دې

راشي زما په تیاره خونه کې څراغ شي راته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما لا په زغرده ور كتلي نه وي

ستا د ديدن يو خيالي باغ شي راته

چې نيمه شپه شي د ليدو هوس دې

راته سپوږمۍ له پورې غرو په تماشه راولي

بيا نه په ځان يم، نه په بل باندې يم

څه لېونۍ غوندې نشه راولي

چې نيمه شپه شي د ليدو هوس دې

زړه را زلمی کړي فکر ستا د پېغلتوب مې يوسي

په هغه شپه بيا ځوروي مې ډېر نه

راته پالنګ شي پکې خوب مې يوسي.

***

تصوير

اسمان کې ايکي يو خړکی ستوری زما مخامخ،

زه د موټرو

بايسكلونو

او د پليو لارويو

په يو ارت ځلورلاري کې ناست،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله موټرې شمارم،

کله سايکلې

کله پلې جينکۍ

يا جينکۍ هلکان ګډ وډ سره،

نارينه نه شمارمه،

په نارينه وو ته کتو زه داسې ګران وختونه نه ورکوم،

اوس په اسمان کې هغه ايکي يو خړکی ستوري له مانه پنا،

هغه دی بيا يوه يواځې جينۍ

بس کې لاړه،

لږ شيبه وروسته به توده موده

خپل کور کې ناسته،

يا د خپل يار په درشل،

خو زه خپل کور ته چې د بس لار هم نه

نه شم تلای کيلي مې ورکه،

او په اسمان کې هغه ايکي يو خړکی ستوری

زما مخامخ

بيا را ښرګند.

***

کيسه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان تک شین لکه د ګوتې غمی،

کټ مټ زموږه د نیمزالې ګاونډۍ

پړونی تېر اختر کې،

خو بس یوه لکه په شپه کې

خور ځنګل ته ورته

توره وریځه،

زموږ د کلي په دا سر ولاړه یو سات وشو،

نه څپک بره ځي نه کوزه خوځي،

سره له دې چې اوس هواوې ماتې،

خو چې لمر لږ پنا د ژمي احساس بېرته ژوندی،

د کلي مخې ته په نوې ټوکېدلې

د رشکې پټې کې،

بلاربه سپینکۍ دنګه رسا اسپه

دوه تورې او دوه ژېړې غواوې،

څنګه په وار سره اسمان ته ګورې،

ټیک لکه زه ښایي په وریځو غوسه،

دا زه کیسه نه لیکم،

نه تخیل دی زما،

دا زه همدغه شېبه لیکم چې همدغسې ده.

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تېوس

کابل وران، میدان ویجاړ شو،

خو دې دواړو کې توپیر شته،

عالمان به پرې پوهېږي،

ما خو داسې اورېدلي،

چې اکثره وران ودان شي،

خو ویجاړ چې خدایزده څه شی؟،

تش پوښتنه مې کوله.

***

## منې

د "منې ګل" د لومړۍ مشاعرې په ویاړ

ښنګه مې زړه کېږي

په خپله چې ور وخېژم ښپلیو سره،

څادر د دوو څانګو په منځ کې

کېږدم کېنمه پرې،

او ښه تکیه ووهم،

په پېغلو څانګو کې

را څوړندو د سرو منېو بنډار ته غوږ شم،

لږه شېبه په لاندې سین کې

د رڼو اوبو شرار ته غوږ شم،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا ښکالو مې د خيالو لړۍ

را و شلوي او لار ته غوږ شم،

لکه چې بيا يې د کلا په دېواله

له خپلو ځالو سره مار ليدلی،

پورې سنځلو کې د ګڼو کورنو مرغيو،

په زوره- زوره چغهار ته غوږ شم،

يو چتی راشي غواړي و ځري دې اړخ ته دلته،

نيمه مرغيو چې خوړلې په دا سره منه کې،

بېرته چې ماته يې پام ژر و تښتي،

زما منهو ته تلوسه لا زياته،

اول سورلاستی په غنمو پېرودلی چاکو،

د واسکټه له جېبه

په ناز را وکاږم

پرې رغوی تېر کړم،

بيا په منهو ور خلاص شم،

چې په مزه- مزه او خوند- خوند يې کړم سپينه

لکه سپينه هګۍ،

بيا ترې ترانګې بېلوم د ختکې په شانې،

تر هغو خورم يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مور خبره : "و بزېږم"،

يانې چې ټنډ شم د څاريو په شان،

بيا نو ور وغورځم پراخه سين ته،

تر هغو لامبم چې دا يو خروار منې مې هضم،

له لمبا سترې چې راوځم

رېگ کې خوب مې يوسي،

چې را وينښېږم غرمه تېره

ماسپښين هم پسې،

په درمندځای کې د تمام کلي واړه ماشومان،

په خرمستيو لگيا،

زه هم په بيړه ځان ور ورسوم.

***

خدای پاماني

ستورو! نور ځئ

له دې محله دلته اور را اوري،

لمره په دې غم کلي

نور چې را ونه ځلېږې!،

سپوږمۍ په مخه دې ښه

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**